# د امیر نواز جلیاد "درد" ډرامې یوه څېړنه

## An Anaylsis Of The Initial Pashto Dramma "DARD"

(Author: Javed Iqbal Iqbal)

**Abstract:**

*In This paper the writer has analyzed the various dimension of the historical and political drama staged during the Khudai Khidmatgar movement (1930s).the drama is written by Amir Nawaz Jalya (1910-1979) that,imbed a provocative sense to shift the political and social realities imposed by the European colonial forces.in the light of internal evidences of the same drama,the writer proved its mistake i.e writing,confisicasting,publishing and stsged dates,committed by reouted researchers and constantly repeated in their writings.it is worth to mention that this drama was out of seen and Dr.Khalid Khan Khattak found at British library London. The Paper traces the correct date of its write-up commencement and also analyzes the dialogues and characters thoroughly.*

د امیر نواز خان جلیا لیکلې ډرامه "درد" یوازې یوه ډرامه نۀ ده بلکې په برصغیر کښې د پښتون اولس د سیاسي او سماجي تاریخ یوه اهمه ګړې هم ده ځکه مونږ درد ته یوه تاریخي ډرامه هم وئیلی شو دا ډرامه په داسې دور کښې لیکلې شوې ده چې په برصغیر کښې اولسونه او قومونه د انګرېز سامراج خلاف په مزاحمت کښې مشغول وو او د انګرېز حکمرانانو د غلامۍ نه د ازادۍ ترلاسه کولو دپاره ئې عملي هڅې کولې. دې لړ کښې پښتون اولس یو خوا خو د خان عبدالغفار خان (باچاخان) په مشرۍ کښې د خدائي خدمتګار تحریک د سیوري لاندې جدوجهد کولو او بل خو په قبائیلي سیمو کښې د فقیرایپي، کاکاجي صنوبر حسېن مومند او د پېښور په سیمه حاجي صاحب ترنګزي خپل مجاهدانه کردار لوبولو.

د خان عبدالغفار خان په مشرۍ کښې انجمن اصلاح الافاغنه او بیا د خدائي خدمتګار تحریک د سیوري لاندې چې کومې عملي هڅې روانې وې په هغې کښې د پښتنو لیکوالو کردار هم ډېر مؤثر او واضح ؤ چا چې د صحافت، ډرامې او شاعرۍ وغېره په ذریعه د انګرېز سامراج خلاف شعوري بېداري پیدا کوله او په دې طریقه ئې اولس کښې د انګرېز د ظلم، غلطو پالیسو او ناروا سلوك خلاف ولوله او جذبه را بیداروله. د خان عبدالغفار خان د تحریك په دغو ملګرو او لیکوالو کښې یو فعال غړی امیر نواز جلیا هم ؤ چې د صحافت، شاعرۍ او ډرامو غندنه کوله. د هغۀ ډرامه "درد" هم د دغه تسلسل یوه کړې ده چې دلته پرې

بحث کوو خو د دغه بحث نه وړاندې په لنډه توګه د دې ډرامې د ليکوال امير نواز جليا د فکر او عملي هڅو يادونه هم ضروري ګڼم ځکه چې د "درد" ډرامې جائزه مونږ د هغۀ د فکر و نظر او عملي هڅو په تناظر کښې اخستلی شو. دې لړ کښې د يو سياسي کارکن، صحافي او شاعر په حېث د ښاغلي جليا په حقله مونږ د يو څو مستندو ليکوالو لندې حوالې پېش کوو:

## امير نواز جليا:

د امير نواز جليا د فکر و نظر او شخصيت په حقله د هغۀ ډېر نزدې ملګري او د ازادۍ د تحريك فعال کارکن اروابناد عبدالاکبر خان اکبر په خپل کتاب کښې په اختصار سره ليکلي دي چې:

"امير نواز جليا د اتمانزو يو سرګرم کارکن دی خو کله به خدائي خدمتګار ؤ او کله به ئې چې باچاخان سره ورانه شوه نو مسلم ليګ يا د سرفراز خان افغان ليګ سره به شو. 1931ء کښې قيد شوی ؤ اسلم شرر او دې د انګار ايډيټران وو ښۀ شاعر دی حاضر جواب دی، په دوستۍ او دښمنۍ ئې خوك يقين نۀ شي کولی، کله بد مذهبه شي او کله اوږدې تسبيح راواخلي، په هر رنګ چې دی د پښتنو خېرخواه دی اوس نېشنل کښې دی"(1).

ښاغلي اجمل خټك په خپله مختصره او مجموعي رائې کښې د ځنو نورو پښتنو انقلابي شاعرانو سره د جليا د انقلابي فکر يادونه په دې ټکو کړې ده:

*"انگریزوں کے سیاسی غلبہ کے رد علم سے پٹھانوں میں اصلاح افاغنہ اور پھر سرخ پوش تحریک کے نام سے جو سیاسی سر گرمیاں شروع ہوئیں تو اس اصلاحی اور پھر سیاسی سٹیج نے چند شعلہ نوا ادباء اور شعراء پیدا کئے جنھوں نے قوم کی بیداری کے لئے ترانے، غلامی کا شدید احساس دلانے کے لیے آتش بار نظمیں اور جانبازی کا درس دینے والے شعر کہے ان شعراء میں خادم محمد اکبر، عبدالخالق خلیق، عبدالاکبر خان اکبر، فضل محمود مخفی، فضل رحیم ساقی، عبدالغنی خان غنی (لیونے فلسفی) امیر نواز جلیا کے نام قابل ذکر ہیں"(2).*

د يو انقلابي او قامي شاعر په حېث عبدالخالق خليق هم د هغۀ يادونه کړې ده او د 1930ء په واقعاتو کښې ئې ليکلي دي چې:

"په دې دوران کښې پښتنو شاعرانو ډېر قابلِ قدر خدمت کړی دی، د خادم صاحب نه علاوه حبيب الله کاکا د ترنګزو، تورسم خان کاکا د دوه سرو، فضل حق شېدا چې هغه وخت يو طالب علم ؤ د امير نواز جليا چې دۀ هم لاسبق وئيلو... داسې نور ډېر شاعران دي چې ما ته ئې نومونه ياد نۀ دي ډېر خدمت کړی دی"(3).

د انګرېز سامراج خلاف مزاحمت، د ازادۍ حصول او د غلامۍ تصور ختمولو په لړ کښې ښاغلي جليا خپله قلمي مبارزه د يو صحافي په حېث هم جاري ساتلې وه، انګار اخبار د هغۀ په ادارت کښې هغه انقلابي جوش او ولوله پيدا کړې وه چې په هندوستان کښې ئې

مثال نهٔ پیدا کېدو، نامور صحافي ښاغلي اجمل ملك د دغه اخبار او امیر نواز جلیا د سیاسي فکر په حقله د فارغ بخاري په حواله لیکلي دي چې:

فارغ بخاری کے مطابق جب تحریک آزادی عروج پر تھی تو روزنامہ انگار نے 1930ء میں پشاور سے اپنے کٹھن سفر کا آغاز کیا... یہ اخبار خان عبدالغفار خان کی سرخ پوش تحریک کا حامی تھا حکومت کا شدید ترین مخالف تھا اور اپنے انقلابِ فن کا جوش ٹھنڈا نہ ہونے دیا یہ پرچہ قلیل المدت تک جاری رہا لیکن اتنا ہنگامہ خیز پرچہ صوبہ سرحد (خیبر پختونخوا) تو کیا ہندوستان میں بھی کم ہی نکلا ہو گا"(4).

د امیر نواز جلیا د فکر و نظر او عملي هڅو په لړ کښې مونږ د یو څو مستندو لیکوالو حوالې پېش کړې د دغو حوالو په رڼا کښې د جلیا فکر و نظر، عملي هڅې سیاسي، سیماجي او ادبي فعالیت سره سره د هغهٔ مزاحمتي کردار هم واضح شو. چونکې زمونږ د بحث اصل موضوع د هغهٔ ډرامه "درد" ده ځکه د جلیا د شخصیت او سیاسي، سماجي او مزاحمتي فکر په حقله په دغو حوالو اکتفا کوو او راځو د هغهٔ تاریخي ډرامې "درد" ته.

## درد (ډرامه)

درد د امیر نواز جلیا یوه داسې ډرامه ده چې د برصغیر د سیاسي او سماجي تاریخ یوه نهٔ هېرېدونکې برخه ده. دا ډرامه د پښتو د وړومبي دور طبع زاد ډرامه ده. ښاغلي اجمل خټك د پښتو د وړومبي دور د نورو ډرامو سره سره د درد ډرامې په حقله لیکلي دي چې:

"عبدالاکبر خان اکبر کا لکھا ہوا "جونگڑہ" نامی ڈرامہ... اور جلیا کی تصنیف "درد" ڈرامے کی تاریخ کی ارتقائی کڑیاں ہیں"(5).

درد ډرامه په کال 2012 کښې باچاخان ریسرچ سېنټر پېښور پښتونخوا له خوا چاپ شوه د دې چاپ نه دا اندازه هم وشوه چې دا ډرامه د دې نه وړاندې په کال 1932ء کښې هم چاپ شوې وه خو کاپۍ ئې نایاب دي. د کال 2012ء چاپ ډرامې سره د متن نه علاوه د ډاکټر فضل رحیم مروت، ډاکټر محمد زبیر حسرت، ډاکټر خالد خان خټك او د دې ډرامې لیکوال امیر نواز جلیا تعارفي لیکنې هم شاملې دي. چې د دې ډرامې د دور، موضوع او د هغه دور او سیاسي، سماجي حالاتو په حقله معلومات هم را وړاندې کوي، کوم دور کښې چې دا ډرامه لیکلې شوې وه.

## د ډرامې د لیکلو، ضبط کېدلو او چاپ کال

روسـي ليکـوال ګ ف ګېـرس د دې ډرامـې د ليکلـو کـال 1932ء ښـودلی دی او د چـاپ کـال ئې د کال 1932ء نه وروستو ښودلی دی، هغهٔ ليکلي دي چې:

"دغـه ژانـر (ډرامـه) تـه امیـر نـواز جليـا هـم مخـه کـړې وه. پـه 1932ء کـال کښـې دهٔ د "درد" پـه نامهٔ ډرامـه وليکلـه چـې وروسـتو بيـا د يـوې رسـالې پـه توګـه چـاپ شـوه. د دې ډرامـې ښـودلو پـه خلقـو کښـې داسـې طوفـاني عکـس العمـل پيـدا کـړ چـې انګرېزانـو هغـه مصـادره کـړه او ډرامـه ښوونکي ئې په اوږدو حبسونو محکوم کړل"(۶).

ډاکټر زبېر حسرت د دې ډرامې د چاپ کال 1932ء ګڼي او ليکي:

"د دې نـه مـونږ تـه دا انـدازه هـم ولګېـده چـې دا اميـر نـواز خـان جليـا "درد" نـومې ډرامـه پـه 1932ء کښې چاپ شوې هم وه او د پښتونخوا کور کور ته رسېدلې هم وه"(7).

ډاکټـر فضـل رحـيم مـروت د دې ډرامـې د سټېج کېـدلو او د انګرېـز حکمرانـانو لـه خـوا د ضبط کېدلو کال 1932ء ښائي او ليکي:

"دغـو ډرامـو کښـې يـوه ډرامـه "درد" چـې ډېـره مشـهوره وه او خـدائي خـدمتګار محتـرم اميـر نـواز خـان جليـا ليکلـې وه پـه کـال 1932ء کښـې پـه سټېج ښـودلې شـوې وه چـې پـه هـم دغـه کـال انګرېزانو ضبط کړه"(8).

ډاکټر خالد خان ختټک د دې ډرامې د ضبط کېدلو کال 1932ء ښائي او ليکي:

"درد" او دوه نـور کتابونـه خـاص د باچاخـان تحريـک سـره تعلـق لـري نـو ځکـه دا درې واړه پـه 1932ء کښې انګرېزانو ضبط کړل او ټولې نسخې ئې ضائع کړې"(9).

پـه خپلـه يـوه بلـه مقالـه کښـې ډاکټـر خالـد خـان ختټـک د "درد" ډرامـې د اشـاعت کـال 1932ء ښائي او ليکي چې:

"پـه 25م اګسـت 2011ء خـاص بـرټېش لائبرېـرۍ لنـدن کښـې مـې دا نايابـه ډرامـه وموندلـه او مخـې سـره مـې پـرې يـو نقـل جـوړ کـړو دا د اميـر نـواز جليـا تصـنيف دی چـې پـه 1932ء کښـې شـائع شو"(10).

وړانـدې پـه همدغـه مقالـه کښـې د کتـاب د چـاپ کېـدو کـال پـه حقلـه د خپلـې خبـرې رد کـوي او ليکي:

"دا کتــاب پــه ورکــوټې ســائز د 7 انــچ ضــرت 5 انــچ پــه ســائز کښــې چــاپ پــه 46 صــفحو مشــتمل دی. د چــاپ کــال نـهٔ لـري خـو انګرېزانــو پـرې د 24 اکتــوبر 1932ء تــاريخ پــه قلـم سـره ليکلی دی"(11).

د ډاکټـر خالـد خـان ختټـک، ډاکټـر فضـل رحـيم مـروت او ډاکټـر زبېـر حسـرت پـه بيانـاتو کښـې تضـاد ليـدی شـي. زمـا پـه خيـال د ډاکټـر خالـد خـان ختټـک پـه نشـاندهي د ډرامـې د ضبط

کېدلو کال 24 اکتوبر 1932ء په وجه باچاخان ریسرچ سېنتر پېښور له خوا هم پرې د وړومبي چاپ کال 1932ء لیکلې شوی دی او ورسره ئې غالباً هم لیکلی دی. د "غالباً" ټکی په خپله د دغه کتاب د وړومبي اشاعت په حقله سوالونه راپورته کوي او دا هم امکان لري چې د ضبط کېدلو نه ډېره موده پس هرکله چې دغه کتاب لائبرېرۍ ته رسېدلې دی نو د لائبرېرۍ د ریکارډ ساتلو په لړ کښې متعلقه کس پرې قلم سره ذکر شوې تاریخ لیکلی دی. دا خبره هم په سند رسېدلې ده چې په کال 1930ء کښې د دغه ډرامې اداکارانو ته انګرېزانو درنې سزاګانې ورکړې وې نو د دې خبرې قوي امکان موجود دې چې انګرېزانو به په کال 1930ء کښې دغه ډرامه ضرور ضبط کړې وي ځکه چې د انګرېز غونډې ځېرك قام نه دا توقع نۀ شي کېدی چې دغه ډرامه دې (چې د دوی د پاره د یوې مستقلې خطرې نه کمه نۀ وه) د دوه کالو اوږدې مودې نه پس ضبط کړي.

ډاکټر زبېر حسرت چې په "درد" ډرامه کومه څېړنه پېش کړې ده د هغې نه جوتیږي چې هغۀ یوازې د ګ ف ګېرس په معلوماتو تکیه کړې ده حال دا چې د ګ ف ګېرس د ډرامې د لیکلو د چاپ کال په حقله په خپله تېندك خوړلی دی. همدغسې د ډاکټر خالد خان خټك د تحقیقي تېروتنې بنیادي محرك هم د ډرامې د ضبط کېدلو کال دی چې ډاکټر فضل رحیم مروت ئې هم پېروي کړې ده. دلته دا وئېل به بې ځایه نۀ وي چې زمونږ دغو ټولو لیکوالو د هغو لیکوالو حوالو ته توجه نۀ ده کړې څوك چې د امیر نواز جلیا هم عصر وو، د هغۀ د تحریك ملګري وو او په خپله د دغه دور ډرامه لیکونکي هم وو. زما مراد د عبدالخالق خلیق او عبدالاکبر خان اکبر د حوالو نه دی حال دا چې زمونږ د دغو دواړو اهمو لیکوالو حوالې په لیکلې شکل موجودې دي. خو زۀ ډېر په ادب سره وائم چې زمونږ محققینو فضل رحیم مروت، خالد خان خټك او زبېر حسرت یو هم د دغو حوالو د لیکلو زحمت نۀ دی کړی. د دغو درې واړو محققینو د تحقیق رد کلو دپاره به په خپل ځای مستندې حوالې پېش کولی شي خو د دغو حوالو پېش کلو نه مخکښې د پروفیسر افضل رضا تېروتنه هم بائد چې په ګوته شي کومه چې هغۀ نه په خپل کتاب "ډرامه" کښې شوې دی او دغه کتاب د ملك د مختلفو پوهنتونونو په نصاب :ښې هم شامل دی.

پروفیسر افضل رضا په خپل کتاب کښې بغېر د کوم سند نه د ډرامې د سټېج کېدو تاریخ 20م اپرېل 1930ء یاد کړی دی او لیکلی ئې دي چې:

"د انګرېز استعمارچیانو خلاف چې کومه باقاعده لویه ډرامه سټېج شوه، هغه وه د امیر نواز خان جلیا لیکلې ډرامه "درد" چې قومي کار کوونکو پېش کړې ده. انګرېزي حکومت چې خبر شو نو د دې ډرامې پېش کوونکو ته ئې درنې درنې سزاګانې ورکړې د دغه

ډرامې په کار کوونکو کښې د بابړې احمد، فصيح باچا او عبدالحنان بجلي دوئ نامې د ذکر وړې دي. دا ډرامه په شلم اپرېل 1930ء کښې ستېج کړې شوې وه"(12).

د "درد" ډرامې د ستېج کېدو تاريخ په حقله د پروفېسر افضل رضا څېړنه درسته نۀ ده ځکه چې د ډرامې اندروني شهادت د افضل رضا د تحقيق مرسته نۀ کوي په دغه ډرامه کښې د قصه خوانۍ او ټکر خونړۍ پېښو يادونه شوې ده چې په دې توګه ده:

"تاسو ته زما زور نۀ دی معلوم؟ د قصه خوانۍ خون رېزي مو هېره شوه؟، د ټکر قتل عام مو هېر شو؟"(13).

په اصل کښې د قصه خوانۍ خونړۍ واقعه په 23 اپرېل 1930ء کښې شوې وه د دغه پېښې په حقله خان عبدالولي خان په خپل کتاب کښې ليکلي دي چې:

"د کال 1930ء په درويشم اپرېل د پېښور ښار خلقو د دغه سياسي ګرفتار برخلاف احتجاجي مظاهره کوله حکومت پرې بد وګڼل، د بندولو کوشش ئې وکړو، اولس په خپل ځای ټينګ ؤ د قصه خوانۍ په بازار کښې فوځ او قام سره مخامخ شو، ګولۍ و چلېدې او په سوونو زلمي او مشران د پيرنګي په ګولو سوري شول"(14).

دې نه علاوه په دې ډرامه کښې د ټکر د واقعې يادونه هم شوې ده عبدالخالق خليق د دې واقعې ذکر په خپل کتاب کښې د مئ 1930ء په واقعاتو کښې کړې دی، باچا خان هم په خپل کتاب کښې د ټکر واقعې ذکر کړی دی او د انګرېز کپتان مسټر مرفي د قتل او د ټکر واقعې صحيح تاريخونه ئې ورکړي دي. باچاخان د مردان د اسسټنټ کمشنر مسټر "هے" او اسسټنټ سپرنټنډنټ پوليس مسټر مرفي د ظلم يادونه کوي او په همدغه موقع د مسټر مرفي د قتل ذکر هم کوي او بيا وائي چې د دې واقعې نه يوه ورځ پس د ټکر واقعه پېښه شوې ده باچاخان ليکي:

"سبا له د دې پيرنګي بدل اخستلو دپاره په 28 مئ په ټکر فوجونه ورغلل، کلی ئې محاصره کړو او په خلقو ئې بې دربغه ګولۍ وچلولې، مشينګنونه ئې هم په کښې استعمال کړل، ډېر ماشومان، زلمي او ښځې، نر په کښې شهيدان شول"(15).

د عبدالولي خان او عبدالخالق خليق پوتني اقتباسات يو خوا که د پروفېسر افضل رضا څېړنه غلطه ثابتوي نو بل خوا د دغو بياناتو نه جوتيږي چې دا ډرامه کم نه کم د مئ 1930ء نه پس ليکلې شوې او ستېج شوې ده، خو هرکله چې خليق صاحب د ټکر ذکر د مئ 1930ء په واقعاتو کښې کړې دی نو معلومېږي داسې چې دا ډرامه به د کال 1930ء په جون يا جولائي کښې تر دې چې تر دسمبر د مياشتې پورې په دور کښې ليکلې شوې او ضبط شوې او په دې بحث کښې د جليا په حقله د عبدالاکبر حواله وړاندې تېره شوې ده چې په کښې ئې د امير

نـواز جليـا د شخصـيت او فکـر پـه حقلـه مجمـوعي خبـرې کـړې دي. دې نـه عـلاوه عبـد الخالق خليـق چـې د دې ډرامـې د دور پـه حقلـه څـۀ ليکلـي دي هغـه زمـونږ د وړانـدې ذکـر شـوو، درې واړو محققينو د تحقيق رد کوي.

ځکـه چـې خليـق صـاحب پـه خپـل کتـاب "د ازادۍ جنـګ" کښـې د حـالاتو يادونـه و کليـزو واقعـاتو پـه ترتيـب سـره کـړې ده او د دې ډرامـې د سټيـج کېـدلو ذکـر ئـې د کـال 1930ء پـه واقعـاتو کښـې کـړې دی. پـه کـال 1930ء کښـې خليـق صـاحب د دوو ډرامـو سټيـج کېـدلو ذکـر کـړی دی يـوه ډرامه د عبدالاکبر خان اکبر وه د دې ډرامې په حقله خليق صاحب ليکلي دي چې:

"پـه دې جلسـه کښـې د تېـرو کلونـو پـه شـان د عبـدالاکبر خـان ليکلـې يـوه ډرامـه هـم پـه سټيـج وښـودلې شـوه د دې ډرامــې مضـمون زيـات د حکومـت بـرخلاف د سـول نافرمـانۍ مظـاهره وه، مولانا هلالي په کښې د سياسي قيدي پلټ ښودلی ؤ"(16).

د جليا د ډرامې په حقله خليق صاحب ليکلي دي چې:

"د جليـا صـاحب يـوه ډرامـه چـې درد نومېـده پـه بـابړه (چارسـده) کښـې يـو څـو ژټـو پـه سټيـج وښـودله، د هغـې ډېـر ښـۀ اثـر وشـو، خـو حکومـت برداشـت نـۀ کـړه. ډرامـه ئـې ضـبط کـړه او اداکاران ئې ګرفتار کړل او د مختلفو قيدونو سزاګانې ئې ورکړې"(17).

پروفيسـر ډاکټـر محمـد اعظـم اعظـم نـۀ يـوازې دا چـې د خليـق صـاحب د معلومـاتو مرسـته کـړې ده بلکـې پـه واضـحه توګـه ئـې د درد ډرامـې د ليکلـو او سټيـج کېـدلو کـال 1930ء ښـودی دی او ورسره ئې د عبدالاکبر خان اکبر د ډرامې ذکر هم کړی دی.

ډاکټر اعظم اعظم ليکي:

"د ښـاغلي اکبـر پـه "درې يتيمـان" پسـې چـې د کـومې ډرامـې ذکـر راځـي هغـه هـم د هشـتنغر د سـيمې د اوسـېدونکي ښـاغلي اميـر نـواز خـان جليـا "درد" ده. دا ډرامـه پـه کـال 1930ء کښـې ليکلې شوې ده او هم په دغه ورځو کښې سټيج کړی شوه"(18).

دا خبـره خـو صـفا شـوه چـې درد ډرامـه اميـر نـواز جليـا پـه کـال 1932ء کښـې نـۀ بلکـې پـه کـال 1930ء کښـې ليکلـې ده چـې پـه همدغـه کـال پـه بـابړه کښـې سټيـج شـوې وه. دا خبـره هـم واضـحه شـوه چـې پـه دغـه ډرامـه کښـې کومـو اداکـارانو اداکـاري کـړې وه هغـوئ تـه د انګرېـز سـرکار لـه اړخـه سـزاګانې ورکـړې شـوې وې. دا هـم واضـحه شـوه چـې د عبـد الخالق خليـق د بيـان ترمخـه دا ډرامـه د انګرېـز سـرکار لـه خـوا پـه کـال 1930ء کښـې ضـبط شـوې وه خـو د دې خبـرې وضـاحت دپـاره سـند نشـته چـې دا ډرامـه پـه چـاپ شـوي شـکل ضـبط شـوې وه او کـه يـوازې مسـوده ئـې ضـبط شـوې وه کـه پـه چـاپ شـوې شـکل ضـبط شـوې وي نـو بيـا خـو پـه همدغـه کـال

1930ء کښې دا ډرامه په کتابي شکل چاپ شوې هم وه او که د مسودې په شکل ئې ضبط کړې وي نو بيا به دا ډرامه په کال 1932ء کښې په کتابي شکل چاپ شوې وي.

## د جليا ايکې يوه ډرامه درد

لکه چې وئيلې شوې دي چې امير نواز جليا د انګريز سرکار خلاف مزاحمت د صحافت، شاعرۍ او ډرامې په ميدان کښې ښۀ په زور او شور سره کړې دې، دلته دا يو سوال را پورته کيږي چې آيا جليا په خپل ټول ژوند کښې همدغه ايکې يوه ډرامه ليکلې وه او که نۀ د ډرامې په ميدان کښې ئې نور هم کار کړې دې ترڅو چې د دستياب ريکارډ تعلق دې نو مونږ سره د جليا يوازې همدغه يوه ډرامه موجوده ده دې نه علاوه د جليا د ډرامې په تعارفي خبرو کښې ډاکټر زبير حسرت هم وئيلي دي چې درد د ښاغلي جليا يوازينۍ ډرامه ده هغۀ ليکلي دي چې:

"جليا خان خپله ايکې يوه ډرامه ليکلې ده چې ما هم دا يوه ډرامه د پښتو د اصلاح او پوهې دپاره ليکلې ده، مقصد مې دا ؤ چې دې کښې د پښتو نارينه وو او زنانه وو کوم کردارونه دي بايد چې د پښتونخوا نارينه او زنانه هم په هغې کښې رنګ شي او د قوم او وطن دپاره هر قسمه قربانيو ته ځانونه هر وخت تيار وساتي"(19).

ډاکټر زبير حسرت په حقله کومه خبره کړې ده هغه محتاطه خبره نۀ ده ځکه چې جليا جرته هم دا نۀ دي وئيلي چې ګنې درد د هغۀ ايکې يوه ډرامه ده البته هغۀ دا ضرور وئيلي دي چې درد د هغۀ وړومبۍ ډرامه ده، جليا ليکي:

"زما وړومبۍ ځل دی د دې نه وړومبی ما چرې بل تصنيف نۀ دی کړی، دې دپاره په دې کښې د غلطو څۀ خيال مه ساتئ خو سبق ترې واخلئ او ميدانِ عمل ته راووځئ"(20).

خو د دې مطلب هيڅ کله دا نۀ شي کېدی چې ګنې جليا به د درد نه پس هم ډرامه نۀ وي ليکلې. ډاکټر زېبر حسرت په خپلو همدغو خبرو کښې د روسي ليکوال ګ ف ګېرس يوه حواله را نقل کړې ده په کومه کښې چې هغۀ ته مشهور پښتو ډرامه ليکونکی او شاعر وئيلی شوی دی. د ګ ف ګېرس حواله په دې توګه ده:

"د انګار جريدې په تحريري هيئات کښې چې په 1932ء کال تاسيس شوې وه، امير نواز جليا فعال ګډون کړی ؤ. دی په کال 1910ء پيدا شوی دی، مشهور پښتون ډرامه ليکونکی او شاعر دی"(21).

په دې خبره غور په کار دی چې يو ليکوال ته په يوه ډرامه ليکلو مشهور پښتون ډرامه ليکونکی وئيل محتاطه خبره نۀ ده. دغه رائې ګ ف ګېرس د درد ډرامې نه 36 کاله پس د جليا په حقله په خپل کتاب کښې قائمه کړې ده. د يادونې وړ ده چې په روسي ژبه کښې ليکلی شوی د هغۀ کتاب په کال 1966ء کښې په ماسکو کښې چاپ شوی دی چې وروسته ئې پښتو ترجمه معتمد شينواري کړې ده. او په کال 1985ء کښې په افغانستان کښې چاپ شوی دی. دې نه مونږ دا اندازه لګولی شو چې د هغۀ له نظره شايد د جليا بله ډرامه هم تېره شوې وي د کومې ذکر چې ډاکټر حنيف خليل په خپل اردو کتاب کښې کړی دی. ډاکټر حنيف خليل چې په خپل کتاب کښې د پښتو ډرامې په سفر کوم بحث کړی دی هلته ئې په واضحه توګه د ښاغلي جليا د دوو ډرامو يادونه کړې ده خو د ډرامو نومونه ئې نۀ دي ورکړي البته د جليا د همعصرو ليکوالو د ډرامو نومونه ئې ليکلي دي. په کار خو دا وه چې هغۀ د جليا د دواړو ډرامو نومونه هم ورکړي وی بهر حال د ګ ف ګېرس او ډاکټر حنيف خليل په حوالو په کار دی د ډاکټر حنيف خليل حواله دا ده:

"اس دور کے ديگر ڈراموں میں امير نواز جليا کے دو، عبد الخالق خليق کے تين ڈرامے خدائی خدمتگار، "شہيدہ سکينہ" اور "خوگ ژوندون" (پياری زندگی) رحیم اللہ کا "نوے روښنی" (نئی روشنی) اور ہمت، عبد اللہ جان اسير کا "درسِ عبرت" فضل رحيم ساقی کا سپيرہ مرکے (منحوس موت)، عبد الاکبر خان اکبر کا جونګړه (جھونپڑی) قابل ذکر ہيں"(22).

صدیق الله رښتین په خپل کتاب کښې د "درد" ډرامې په حقله خبرې کړي دي او یو ځای ئې د جلیا د نورو تصنیفاتو په حقله لیکلي دي چې:

"جلیا اوس د درې پنځوس کالو په عمر کښې ستړې ستومانه ښکاري او پخوانۍ چېپې پرېوتې دي بل اثر ئې مونږ نۀ دی لیدلی"(23).

د پښتو ادبي تاریخ تر مخه جلیا په کال 1910ء کښې پیدا شوی دی، د رښتین صاحب د لیکنې په وخت د هغۀ عمر درې پنځوس کاله ؤ. او په دې حساب دا د کال 1963ء خبره ده. د رښتین صاحب د وینا نه مونږ دا نتیجه اخذ کولی شو چې کال 1963ء پورې جلیا کومه بله ډرامه نۀ ده لیکلې که هغۀ چرته بله ډرامه لیکلې وی نو د کال 1963ء نه پس به ئې لیکلي وي او دا هم امکان لري چې کال 1963ء نه مخکښې جلیا د درد نه علاوه بله ډرامه هم لیکلې وي او رښتین صاحب ته د هغې علم نۀ وي.

د دې بحث نه مونږ دې نتیجې ته رسو چې درد ته د ښاغلي جلیا ایکې یوه ډرامه وئیل محتاطه خبره نۀ ده البته دا درسته ده چې فی الحال مونږ سره د هغۀ هم دغه یوه ډرامه دستیاب ده.

## موضوع:

د درد ډرامې موضوع په مجموعي لحاظ خو سیاسي ده خو په سیاست کښې د دې ډرامې اصلي موضوع د انګرېز سامراج د ظلم خلاف مزاحمت او شعور بیدارول دي او د غلامۍ د تصور په مقابله کښې د ازادۍ درس ورکول او دې مقصد دپاره د هر قسمه قربانۍ دپاره د پښتون اولس تیارول د دې ډرامې اصل موضوع ده. اروابښاد رضا همداني دې ډرامې ته د سیاسي ډرامو اغاز وائي او لیکي:

"درد د سیاسي ډرامو وړومبی نقش ؤ"(24).

خو د رضا همداني په دغه رائې هم غور په کار دی ځکه چې د دې ډرامې نه مخکښې هم چې د عبدالاکبر خان اکبر، عبدالخالق خلیق او ځنې نورو خدائي

خدمتګارو کومې ډرامې د انجمن اصلاح الافاغنه په کليزو جلسو کښې سټيج شوې وې هغه هم سياسي ډرامې وې بلکې مونږ دا وئيلی شو چې د پښتو ډرامې اغاز د سياسي موضوعاتو نه شوی دی.

د امير نواز جليا د درد ډرامې په حقله چې زمونږ ليکوالو کومې رائې ورکړې دي په هغې کښې هم دغه خبره شوې ده چې دا ډرامه په سياسي موضوعاتو کښې د انګرېز سرکار خلاف د ظلم او جبر خلاف د مزاجمت په توګه ليکلې شوې او سټېج شوې دي. دې لړ کښې اروابناد صديق الله رښتين ليکي:

"دا ډرامه امير نواز جليا هغه وخت ليکلې وه چې په زړۀ دردمن او د مينې په اور جليا ؤ، دا هغه شپې وې چې د دۀ د زړۀ نه د اور لمبې او د انګار په نامه ئې پښتون اخبار چلاوۀ. د اتمانخېلو شموزي پښتون هم چې د اتمانزو په خاوره ولوبېږي نو د پړانګ غر زمری ترې جوړېږي. د خدائي خدمتګارۍ په سر ئې د جېلخانو زنځيرونه وشرنګول او چې د درد ډرامه ئې د غيرت په لوبغالۍ ولوبوله نو د سرکار زولنې ورته بيا وشرنګېدلې او دې سره ئې نو لوبغاړي بندي شول دا ډرامه د درد نه ډکه ده او د ازادۍ جوش په کښې زيات دی"(25).

پروفيسر ډاکټر محمد اعظم اعظم په خپله پي ايچ ډي مقاله کښې د دې ډرامې د موضوع په حقله ليکلي دي چې:

"د دې ډرامې موضوع د هغه وخت د انګرېزي استعمار د ظلم زور خلاف د خپل اولس دپارېدلو جذباتو نه تاوېږي. دا ډرامه په بابړه (چارسده) کښې سټېج کړی شوه او په ادا کارانو کښې ئې د خدائي خدمتګار تحريك نومورې غړي شامل وو.

په "درد" کښې يو خوا د خوار اولس د بې ارزۍ د ژوند دردوونکې نقشه وړاندې شوې وه او بل خوا د انګرېز سرکار د بې رحمه او بې ضميره حاکمانو په رويه باندې بې باکه تنقيد شوی ؤ. له دغې کبله د ډرامې د ليکونکي سره سره د ډرامې کار کوونکي او پېش کوونکي هم په جېل کښې بندي کړی شول او مقدمې پرې وچلولی شوې"(26).

ډاکټر محمد اعظم اعظم چې د "درد" ډرامې د موضوع په حقله کومه رائې ورکړې ده هغه درسته ده خو دلته یوه خبره کول ضروري ګڼم او هغه دا چې د کوم مقصد دپاره دغه ډرامه لیکلې شوې ده په هغې کښې ښغلي جلیا هغه قوت او حرارت نۀ دی پیدا کړی کوم چې په کار ؤ. د قوت او حرارت نه زما مراد دا دی چې په دې ډرامه کښې باید د پښتون قام مزاحمتي کردار په رجائي رنګ کښې پېښو کړی شوی وی، خو د رجائیت په ځای د دې ډرامې منطقي انجام پوره قام هغه وخت د مایوسۍ سره مخامخ کوي کله چې د دې ډرامې مرکزي کردار "پښتون" په جېل کښې خودکشي وکړي خو دې لړ کښې ښاغلی جلیا مونږ په دې نۀ ګرموو چې یو خوا هغه په کچه زلمیتوب کښې دا ډرامه لیکلې ده او بله دا چې دا د هغۀ وړومبۍ ډرامه ده او دغه ډرامه د پښتو د وړومبي دور سره هم تعلق لري دې نه علاوه د ډرامې په حقله د هغۀ تجربه، مشاهده او مطالعه هم دومره پراخه نۀ ده.

د مختلفو لیکوالو د رایو نه د دې ډرامې د لیك مقصد او محرك او د دې ډرامې د بنیادي موضوع وضاحت خو وشو خو لنډې خبرې د دې ډرامې د فن او تېکنیك په حقله هم کول ضروري دي.

## فن او تېکنیک

د امیر نواز جلیا ډرامه "درد" په کتابي شکل کښې زمونږ مخې ته ده ، د دې ډرامې متن ټول په درویشت صفحو مشتمل دی چې ځای په ځای په کښې شعرونه هم راغلي دي. دا ډرامه په داسې وخت کښې لیکلې شوې وه چې پښتو کښې د ډرامې د سفر اغاز ؤ او په داسې وخت کښې کم نه کم په پښتو کښې د ډرامې د فن او تېکنیك د مباحثو اغاز نۀ ؤ شوی البته د دغه دور ډرامو ته چې مونږ ګورو نو لکه د انګرېزۍ د ډرامو په اکثرو کښې د متن تر مینځه د شعرونو د راوړلو رواج موجود ؤ او ښاغلي جلیا هم په خپله دغه ډرامه کښې د دې

تېکنيک نه کار اخستی دی. دې لړ کښې په خصوصي توګه د شېکسپئر د ډرامو مثال وړاندې کېدلی شي چې مېنځ تر مېنځ په کښې د شعرونو استعمال شوی دی. د پښتو شعرونو نه علاوه په ځنو مکالمو کښې د اردو درې شعرونه هم استعمال شوي دي. ښاغلي جليا د خپلې ډرامې شروع په بيابان کښې ولاړ د يو پښتون په خولهٔ د دې شعرونو نه کړې ده:

"اقبال به سر زما په پښو کښې همېشه ايښی ؤ
دښمن په مخکښې به زما لکه نوکر ګرځېدهٔ
زما سلام له به شاهان راتلهٔ له لرې لرې
هما مارغهٔ به مې په سر باندې هر وخت پرېدهٔ
ؤ سلطنت مې له مشرقه تر مغربه پورې
چې سکندر غوندې بادشاه مې د تېرو تېرېدهٔ
هغه پښتون يم چې زما داسې بد حال نن وينې
د بل په لاس کښې تاج و تخت او زما مال نن وينې
د زمانې د لاسه ځنګه مې کنګال نن وينې
خاورو ايرو کښې لوغړن تهٔ هغه لال نن وينې"(27)

د شعرونو سره سره په دې ډرامه کښې د متن په مېنځ کښې ځنې ټپې هم راغلې دي چې ښاغلی جليا ورته مصرعې وائي. دا ډرامه په دوو پارټونو کښې وړاندې کړی شوې ده. په اول پارټ کښې دوه پردې دي او په دوئم پارټ کښې درې پردې دي. د پارټونو او پردو دا تېکنيک هم د هغه دور د ډرامو دی. نن سبا ډرامې په مسلسلو منظرونو کښې ليکلی کيږي. البته د هغه دور او نن دور د ډرامو په تېکنيک کښې د فرق په لړ کښې د دې خبرې خيال ساتل ضروري دي چې په هغه دور کښې به ډرامه يوازې د سټېج دپاره ليکلی شوه ځکه به ډ رامې د ليک په وخت د سټېج د غوښتنو خيال ساتلی شو. ډرامه په بنيادي توګه په

ټوله نړۍ کښې عموماً د سټېج دپاره ليکلې شوې ده ځکه چې په زړو دورونو کښې د ډرامې د ابلاغ هم دغه يوه ذريعه وه، وروسته به ډرامې په کتابي شکل محفوظ کړې شوې. دلته دا خبره کول هم ضروري ده چې د سټېج دپاره ډرامه ليکل نسبتاً ګران کار دی ځکه چې د سوونو او زرګونو کتونکو په مخامه په يو وخت کښې د يو خاص قسم تاثر وړاندې کول اسان کار نۀ دی. د يو خاص قسم تاثر خبره مې ځکه وکړه چې د ډرامې په فني غوښتنو کښې درې وحدتونه، وحدت زمان، وحدت مکان او وحدت تاثر هم خپل اهميت لري. په سټېج ډرامه کښې وړومبي دوه وحدتونه يعني وحدت زمان او مکان خو هسې هم د سټېج تقاضه وي. خو د دغو دوو وحدتونو سره سره د وحدتِ تاثر په ځای او قائم ساتل د پوهه او ځيرك ډرامه نګار وظيفه وي چې ښاغلِي جليا په خپله دې ډرامه کښې په ښۀ توګه ترسره کړې ده. د سټېج ډرامې نه پس چې د رېډيو او ټي وي ډرامې اسانۍ راغلې نو د ډرامې په تېکنيك کښې هم اسانۍ را مخې ته شوې. د امير نواز کردارونه هم ژوندي کردارونه دي. په درد ډرامه کښې د هغۀ يو کردار "زمانه" بعضې وخت هم دی او دغسې د زمانې په ژبه هم هغه اولس ته ځنې خبرې او پېغامونه وړاندې کړي دي چې ډرامه نګار په کښې د خپل وخت د تقاضو تر مخه کامياب شوی هم دی. دې نه علاوه د ښځې او خاوند کردارونه، د يو فوجي جرنېل کردار، د پوليس تاڼېدار کردار، د مور او زوی کردار، د صاحب او اردلي کردار، د حاکم او جلاد کردار او ځنې نورو متفرقو کردارونو ته چې جليا کومه ژبه او تاثر ورکړی دی هغه هم د خپل وخت د ډرامائي تېکنيك غوښتنې پوره کوي. په دې ډرامه کښې د مختلفو کردارونو په ذريعه ځنې تاريخي واقعات يعنې د قصه خوانۍ او ټکر پېښې او د عبدالغفار خان (باچاخان) کردار، نظريه او قربانۍ هم رامخې ته کړې دي چې دا ډرامه د تاريخي ډرامو په فهرست کښې شاملوي. د ډرامې د فن او تېکنيك په حواله هر څو که په درد ډرامه کښې د مکالماتي انداز کمزورتيا، د سسپنس کمی، د پلاټ سستي او د تهيم کمزورۍ په نظر راځي چې د نن دور د ډرامائي تېکنيك

په تله د دې ډرامې کمی څرګندوي. هم دغه وجه ده چې ښاغلي ايوب صابر د دغه دور اکثرې ډرامې په فني لحاظ کمزورې ډرامې يادې کړې دي. دغه دور کښې د نورو ډرامو او امير نواز جليا د درد ډرامې په حقله د ايوب صابر رائې دا ده:

"امير نواز جليا کا "درد" اور رشيد علي دهقان کا "د خيبر اواز" (خيبر کی آواز) بهی پشتو ڈراموں کے ابتدائی دور کی يادگار ہيں، يہ ڈرامے بهی ديگر ڈراموں کی طرح سٹيج کئے گئے اور کتابی شکل ميں چهاپے گئے، يہاں اسی امر کی وضاحت ضروری ہے کہ پشتو کے ان تمام ڈراموں ميں فنی لحاظ سے کوئی بهی ايسی خصوصيت موجود نہيں ہے جس کی بناء پر ان پر بحيثيت پشتو ڈرامہ بحث کی جاسکے (28).

د ښاغلي ايوب صابر دغه تنقيد په خپل ځای درست دی خو د تنقيد په وخت د يوې فنپارې د ليک دور او عمراني حالات په نظر کښې ساتل ضروري دي چې ايوب صابر ئې خيال نۀ دی ساتلی او په هم دغه تناظر کښې مونږ د امير نواز جليا "درد" ته د خپل دور يوه کامياب ډرامه وئيلی شو. ډاکټر خالد خان خټک د دې ډرامې د ډکشن او فني تيکنيک په حقله ليکي:

"ډرامه (درد 1932ء) يقيناً د ډرامې کړۀ وړۀ لري چې په دوه ايکټونو مشتمله ده. اول ايکټ دوه منظرونه لري او د دويم ايکټ درې منظرونه، مکالمې ئې په نثر او نظم دواړو کښې دي او دا په مصنف باندې د اردو ډرامو اثر ظاهروي حيرت انګيز طور باندې د ډرامې ژبه ډيره روانه او د پښتو محاورې سره سمه ده او د پښتو جديد ادبي او هنري نثر يوه ښۀ نمونه ده"(29).

په خصوصي توګه د تاثر جوړولو په لحاظ "درد" شايد چې د خپل دور يوه ډيره مؤثره ډرامه وي. د همدغه تاثر دپاره د دې ډرامې د اول پارټ دويمه پرده د مثال په توګه وړاندې کوم چې د ښاغلي جليا د مکالمه نګارۍ او ژبې اندازه هم

تـرې څرګنـده شـي او دا هـم جوتـه شـي چـې هغــه د دې مکـالمو او ژبـې پـه مرسـته ځنګه تاثر جوړوي او ځنګه ولوله پيدا کوي. نمونه ئې دا ده:

**اول پارټ**

**(دوېمه پرده)**

فوجي جرنېل خپل فوج ته حکم ورکوي.

جرنېـل: تيـار شـئ، نـن د اتمـانزو خلـق باغيـان شـوي دي لاړ شـئ او د هغـوئ سره داسې کار وکړئ چې با بادشاه رعيت سره داسې کار نۀ وي کړی.

فـوځ راځـي او د اتمـانزو خلـق پـه زبردسـتئ سـره د کلـي نـه وباسـي او څـوك چـې ګوتې لګوي هغه پرېږدي او چې څوك نۀ لګوي، هغوئ ته وائي:

جرنېـل: اې باغيـانو! تاسـو دا ګتـې اوچتـې کـړئ او د دې ډهېـرئ سـر تـه ئـې خېـزوئ تاسـو پـه بـل خيـال کښـې پراتـۀ يـئ. تاسـو تـه نـۀ ده معلومـه چـې د انګرېزانـو څـومره طاقـت دی تاسـو د بادشـاه نافرمـاني کـړې ده. زۀ بـه پـه تاسـو داسـې لـوبې وکړم چې تاسو به ئې ياد ولرئ.

يـو خـان: صـاحبه! د دوی انقـلاب او نعـره تکبيـر نـه ډېـر تنـګ شـو، هـر وخـت انقلاب، نعرۀ تکبير.

جرنېـل: زۀ بـه ورلـه اوس انقـلاب او نعـرۀ تکبيـر پـه دې ګتـو کښـې ښـخ کـړم او که دوی کئې څۀ پښتو وي او پښتانۀ وي نو دوی دې ئې راوباسي.

خـان: صـاحبه! همدغسـې پـه کـار ده. زۀ خـو وايـم چې"عبـدالغفار خـان" هـم وسره ښخ شي چې اډو فيصله وشي.

(جرنېل د اتمانزو خلقو ته لېکچر ورکوي)

جرنېــل: اې د اتمــانزو خلقــو! دغــه دی ستاســو انقــلاب، نعــرۀ تکبيــر او عبـدالغفار خـان، پـه ګتـو کښـې مـا ښـخ کـړل. کـه د چـا طاقـت وي او څـوك ځـان تـه پښـتون وائـي نـو راودې ئـې باسـي. تاسـو تـه زمـا زور نـۀ دی معلـوم؟ د قصـه خـوانۍ خونرېزي مو هېره شوه؟ د ټکر قتل عام مو هېر شو؟

تاسو لاسم نۀ يئ. لکه د ظفر شاه د دهلي بادشاه نه مي ستركې وښكلې وې او د هغۀ د زامنو سرونه مي هغۀ له په تالي کښې راوړي وو. داسې به بيا ستاسو د وړو وړو بچو سرونه تاسو ته په تالو کښې کېږدم، وويرېږئ. زما لوی زور دی که نۀ وي لکه د اوده د بېګماتو بۀ ستاسو د پرده نشينانو حيا واخلم، خپل فوجونه ګوراګان بۀ ستاسو په کورونو کښې پرېږدم. زما اطاعت ومنئ. وويرېږئ، زۀ ډېر زورور يم"(30).

## نتيجه:

د دغه خور وور بحث په نتيجه کښې مونږ وئيلی شو چې "درد" ډرامه په کال 1932ء کښې نۀ بلکې جون 1930ء نه تر دسمبر 1930ء په مينځومانه دور کښې ليکلې شوې او ضبط شوې ده خو دا خبره لا مزيد تحقيق غواړي چې ذکر شېو ډرامه انګرېز حکمرانانو په کال 1930ء کښې په چاپ شوي شکل ضبط کړې ده که د مسودې په شکل؟ دې نه علاوه "درد" ته د جليا ايکې يوه ډرامه وئيل محتاطه خبره نۀ ده ځکه چې ځنو حوالو نه جوتيږي چې هغۀ دوه ډرامې ليکلې دي. د "درد" نه علاوه د جليا د بلې ډرامې نوم څۀ دی؟ او په کومه موضوع ليکلې شوې ده؟ دې لړ کښې د پښتو ادبي تاريخ بېخي خاموش دی. د جليا د بلې ډرامې په حقله هم د مزيد تحقيق ضرورت محسوسيږي. دغه ډرامه د خوبيو سره سره فني خاميانې هم لري خو دا چونکې د وړومبي دور طبع زاد ډرامه ده ځکه د عمراني تنقيد د اصولو ترمخه د ليك دور او عمراني حالات هم په نظر کښې ساتل ضروري دي او له دغه زاوئې نه چې "درد" ته ګورو نو دغه مونږ د خپل دور يوه کامیابه ډرامه بللی شو او بله دا چې د پښتون اولس او خدائي خدمتګارۍ د تحريك اصلي مسئلو د ابلاغ دپاره چې پښتنو ډرامه ليکونکو کوم کردار ادا کړی دی په هغې کښې د امير نواز جليا ډېره اهمه برخه ده او د همدغه کردار په لړ کښې د هغۀ ډرامه درد د سنګ ميل حيثيت لري.

# حوالې

(1) اکبر، عبدالاکبر خان، د برصغیر پاك و هند په ازادۍ کښې د پښتنو برخه، یونیورستي پبلشرز پېښور، اگست 2009ء ص330.

(2)خٹک، محمد اجمل، پشتو ادب، مشمولہ اٹکی کے اس پار، مرتبین فارغ بخاری، رضا ہمدانی، گوشہ ادب لاہور، (س ن) ص154.

(3) خلیق، عبدالخالق، د ازادۍ جنگ، اداره اشاعت سرحد، پېښور 1972ء ص83.

(4)ملک، اجمل، صحافت صوبہ سرحد میں، قومی پبلشرز لاہور، اکتوبر1980ء، ص75.

(5)خٹک، اجمل، پشتو ادب، مشمولہ اٹک کے اس پار، ص185.

(6) گېرس، ک ف، د مېړني اولس ادبیات، د قومونو او قبائلو وزارت، د نشراتو او تبلیغاتو ریاست، 1964هـ ش، مخ161.

(7) حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، امیر نواز خان جلیا او درد، مشموله درد (د امیر نواز جلیا) باچاخان ریسرچ سنټر پېښور پښتونخوا، 2012ء، ص13.

(8) مروت، فضل رحیم، ډاکټر، درد د امیر نواز جلیا، مشموله درد (د امیر نواز جلیا)، مخ16.

(10) خالد خان، پروفیسر، ډاکټر، د پښتو یوه نایابه ضبط شوې ډرامه، درد 1932ء، مشموله پښتو جلد نمبر 40-41، سلسله نمبر 642، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، اکتوبر 2011ء، جون 2012ء، مخ114.

(11) ایضاً، مخ 115.

(12) رضا، افضل، ډرامه، یونیورسټي بك ایجنسي پېښور، درئم ځل، 1995ء، مخ50.

(13) جلیا، امیر نواز، درد (ډرامه) ص26.

(14) خان، عبدالولي خان، باچاخان او خدائي خدمتګاري، (وړومبی ټوک) کوهاټ روډ پرېس پېښور، 1993ء، مخ96.

(15) عبدالغفار خان، زما ژوند او جدوجهد، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني 2008ء، مخ389.

(16) ایضاً، مخ 64.

(17) ایضاً، مخ 83.

(18) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، 1993ء، مخ 408.

(19) حسرت، محمد زبیر، ډاکټر، امیر نواز خان جلیا او درد، مشمولۀ درد (د امیر نواز جلیا)، مخ9.

(20) جلیا، امیر نواز خان، درد (ډرامه) د امیر نواز خان جلیا، مخ13.

(21) ګېرس، ک ف، په حواله د درد (ډرامه) د امیر نواز جلیا، مخ13.

(22) خلیل، حنیف، پشتو زبان وادب کی تاریخ، یونیورسٹی پبلشرز، پشاور، اگست 2009ء، ص309.

(23) رښتین، صدیق الله، پوهاند، د پښتو د نثر هېنداره، یونیورستي بک اېجنسي پېښور، (س ن) مخ528.

(24) همداني، رضا، پښتو ډرامه، مشموله قند مردان (ډرامه نمبر) پريمئر شوګر ملز مردان، 1960ء، مخ27.

(25) رښتين، صديق الله، پوهاند، د پښتو د نثر هينداره، مخ527.

(26) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، مخ408.

(27) جليا، امير نواز خان، درد (ډرامه) مخ 18، 19.

(28)صابر، ایوب، جدید پشتو ادب، پشتو ادبی مرکز سرائے نورنگ بنوں،(س ن)ص166.

(29) خالد خان، پروفېسر، ډاکټر، د پښتو يوه ضبط شوې نايابه ډرامه دړد (1932ء) مشموله پښتو، ص117.

(30) جليا، امير نواز خان، درد (ډرامه)، مخ25، 26.